مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید ۲۰۲۶/۰۴/۱۹

**د افغان کډوالو ستونزې:**

# جیوپولیتیک بدلونونه، جبري را ستنېدنه او ملي ازموینه

نږدې پنځه لسیزې وړاندې په هېواد کې د کمونستانو له کودتا وروسته د ناوړه حالاتو، غلطو سیاستونو او خونړیو بدلونونو له امله افغانان مجبور شول پاکستان، ایران او نورو هیوادونو ته کډه وکړي. پاکستان د افغان کډوالو د پالنې او د شوروي ځواکونو په وړاندې د جنګیدونکو افغانانو د ملاتړ په نوم له بهرنی نړۍ څخه خورا زیاتې اقتصادي مرستې او سیاسي ملاتړ ترلاسه کړ. پاکستان د نجیب حکومت له نسکورېدو وروسته پاکستان د ځینو تش په نامه جهادي مشرانو ترمنځ د واک په سر د خپلمنځي جګړو په مهال د افغانستان د کندواله کولو په برخه کې اعظمي ګټه پورته کړه. په دغه تړاو مې خبرې شوې لیکنې شته او نور تفصیل ته نه ځم.

اوس چې په افغانستان، سیمه او نړیواله کچه جیوپولیتیک او جیو ستراتیژیک بدلونونه رامنځته شوي، لومړیتوبونه بدل شوي او له افغان کډوالو څخه د اقتصادي او ستراتیژیکي ګټو پورته کولو وخت تیر شوی دی، نو پاکستان افغان کډوال نه یوازې داچې په افغانستان باندې د فشار د ابزارو په توګه کاروي، بلکې د خورا توهینوونکي چلن له مخې یې په سیستماتیک ډول له پنډغالو، کرایي کورونو او حتی د ډیورنډ پر کرښه تر اوښتو پورې په ځو مرکزونو کې د پلټنو او ثبتولو ترعنوان لاندې کړوي ځوروي، توهین وي، په نفسیاتي رنځونو اخته کوي او بیا یې افغانستان ته اړوي. په تولنیزو رسنیو کې له کډوالو سره د مسئولینو د ناوړه او له سپکاوي څخه ډک چلن ویډیوګانې سالم وجدان درلودونکي انسان نشي کتلای.

د دغه حالت ژوره شننه ښیي چې دغه تګلاره موقتي اداري ستونځه او لنډمهاله تصادف نه دی، بلکې د هغه اوږدمهاله ستراتیژیک تفکر دوام دی چې پکې کډوال د نفوذ او فشار وسیله ګرځول کېږي. له کورونو څخه ایستل، د اسنادو لغوه کول، اقتصادي محدودیتونه، د پلټنو په پلمه له هر ډول اسانتیاو پرته د ځو ورځو لپاره په موټرونو کې د کډوالو ساتل، د اندراج په پروسه کې فساد او سپکاوی د یوې منظمې تګلارې برخه ښکاري.

په بل اړخ کې، په امنیتي پیښو کې د ښکیلتیا او جرائمو باندې کې د افغان کډوالو تورنول د جبر له لارې د افغان کډوالو را ایستل د پاکستان لخوا په تاکتیکي توګه له داخلي ستونځو نیمګړتیاو څخه د خپل ولس د پام اړولو د کمپاین انعکاس هم دی. اقتصادي فشارونه، امنیتي اندېښنې او سیاسي بې‌ثباتي حکومتونه اړ کوي چې په دندو کې د پاتې راتلو د پټولو او د عامه افکارو د کنټرول لپاره د قرباني ګډورى ولټوي او افغان کډوال د همدغې قرباني لپاره اسانه او ارزانه ابزار ګرزي.

افغانستان، چې له نړیوالې انزوا، اقتصادي ستونځو، د کاري فرصتونو له کمښت او کمزورو خدماتي بنسټونو سره مخ دی، د دومره لوی شمېر راستنېدونکو هېوادوالو د جذب لپاره اړین چمتووالی او لازم امکانات نلري. که د جبري راستنېدو بهیر له پلان او همغږۍ پرته دوام وکړي، د بې‌کارۍ، فقر، د سرپناه نشتوالي او ټولنیزو فشارونو نوې توپانې خپه به رامنځته کړي.

له همدې امله، د ممکنه راتلونکي ناوړیني وضعیت مدیریت کول یو ملي او محاسبه شوی چلن ته اړتیا لري. له اړونده نړیوالو بنسټونو باید په لوړه کچه خبرې او ددغه بهیر په سمبالولو کې ورڅخه د هغوی د دندو په چوکاټ کې د مرستو ترلاسه کولو کمپاین پیل او په مسلسل ډول تعقیب شي. افغان حکومت باید راستنیدونکو هېوادوالو ته د بیړنیو مرستو ترڅنګ د هستوګنې لپاره د ځمکې وېش پروسه ګړندۍ کړي. د دې لپاره چې د راستنېدونکو بهیر وکولای شي په ټولنه باندې د بار پر ځای په فرصت بدل شي، باید د کارموندنې فرصتونه رامنځته کول، مسلکي روزنه او کوچنۍ اقتصادي پروګرامونه د حکومت لومړیتوبونه وګڼل شي. د دې لپاره چې د سرچینو په سر سیالي کولای شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

کورنۍ پیچلتیاوې وزېږوي، بناً په ټولنه کې د راستنو شویو هېوادوالو د منلو او بیرته ادغام فضا رامنځته کول مهم دي.

په پای کې، د افغان کډوالو مسئله یوازې له پردي هېواد څخه خپل هیواد ته راستنېدل او د ځای بدلون نه دی؛ دا د سیاسي بنسټونو، اخلاقي ارزښتونو او ټولنیز مسوولیت سخته ازموینه ده. که دا حالت په سمه توګه مدیریت نشي، نه یوازې دا چې د تېرو تېروتنو تکرار به وي، بلکې د راتلونکو ستونځو بنسټ به هم کېښودل شي. همدارنګه مهمه ده چې راستنېدونکي کډوال د هېواد د اوسني وضعیت په اړه واقعي درک ولري او خپلې تمې په افغانستان کې د دغه هیواد له عیني واقعیتونو سره سمې عیارې کړي. هر څه د خپلو اړتیاو او هیلو سره سم او په ژوند کې د چټکو بدلونونو رامنځته کولو تمه نه عملي ده او نه ګټوره. د بیا ځای پر ځای کېدو بهیر تدریجي دی، صبر، انعطاف منلو او د ځان بسیاینې فکر خپلولو ته اړتیا لري. همدغه واقعبینانه چلن کولای شي د فردي او ټولنیزې ناامیدي مخه ونیسي او د ټولنیز ثبات لپاره زمینه برابره کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ